# ٦٠ جنتي عملونه



https://t.me/saraablibrary

ليکوال
ارشاد احمد بن فضيله الشيخ راز محمد

# شپیته جنتي عملونه

لیکوال:

ارشاد احمد بن فضيلة الشيخ راز محمد سراج کاموي

سراب کتابتون یې درته وړاندې کوي.

۱۳۹۸هـ، لمریز کال

https://t.me/saraablibrary

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه

دعوت


کتاب نوم: شپېته جنتي عملونه

لیکوال: **ارشاد احمد کاموي**

چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.لمریز

چاپ شمېر: ۱۱۰۰ ټوکه

چاپ لړۍ: ٦٧

ډیزاین: عابد موسمند ۰۷۸۲۳٦۷۱۵۲

خپرندوی: **دعوت خپرندویه ټولنه**


## د ترلاسه کولو ځایونه

**دعوت کتاب پلورنځی**

اسحاقزي مارکیټ، لاندې پوړ، جلال اباد

اړیکشمېرې: ۰۷۷۵۵۷۲۰۲۰ - ۰۷۹۸۵۹۷٦۷٦ - ۰۷۸۱۵۵۵٦۱٦

**تقوی کتاب پلورنځی**

اسحاقزي مارکیټ، لاندې پوړ، جلال اباد

اړیکشمېرې: ۰۷۹۳۱۵۰۰۵۱ - ۰۷۷٦۰۹۷۹٦۵ - ۰۷۸۹٤۳۱۷۱۹


دچاپ حقوق خپرندویه ټولنې سره خوندي دي

https://t.me/saraablibrary

پـه اخـلاص سـره د تـوحيـد شـاهـدي ورکـول ............ ۷
د الله تعالی نومونه(اسماء الحسنی)يادول ............ ۷
ايات الکرسي لوستل ............ ۸
پنځه وخته لمونځ کول ............ ۸
د سهار او مازيګر او يا هم د سهار او ماسخوتن د لمونځونو پابندي کول ............ ۹
د سنت لمونځونو پابندي کول ............ ۹
د څاښت لمونځ کول ............ ۱۱
په جمعې سره لمونځ اداء کول ............ ۱۱
په تکبير اولی سره لمونځ اداء کول ............ ۱۲
د رسول الله صلی الله عليه وسلم تابعداري کول ............ ۱۲
پر الله تعالی توکل کول ............ ۱۳
د الله تعالی ذکر کول ............ ۱۴
له ورونو او دوستانو سره ملاقات کول ............ ۱۵
په اخېستلو او خرڅولو کې نرمي کول ............ ۱۶
د الله تعالی څخه وېره کول ............ ۱۶
د خپل مال په حفاظت کې وژل کېدل ............ ۱۷
د يتيم پالنه کول ............ ۱۷
د ژبې او شرمګاه حفاظت کول ............ ۱۸
له سورت اخلاص سره مينه کول ............ ۱۸
جوماتونو ته ډېر تلل ............ ۱۹
ديني علم زده کول ............ ۱۹
حيا کول ............ ۲۰
له ضرورت پرته سوال نه کول ............ ۲۰
د سبحان الله العظيم وبحمده ډېر ذکر کول ............ ۲۱
له تکبر،خيانت او قرض څخه ډډه کول ............ ۲۱
ډېر ډېر اذانونه کول ............ ۲۲

د اسلامي احکامو پابندي کول ........ ٢٢
د الله تعالی رضا لپاره حج کول ........ ٢٣
د اوداسه وروسته دوه رکعته لمونځ کول ........ ٢٣
پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود لوستل ........ ٢٤
لاحول ولا قوة الا بالله ډېر ویل ........ ٢٤
په کاروبار کې له نرمۍ او سخاوت څخه کار اخېستل ........ ٢٥
پر مصیبتونو صبر کول ........ ٢٥
په ړندېدو صبر کول ........ ٣٦
له کبیره او لويو ګناهونو ځان ساتل ........ ٣٦
له الله تعالی څخه د جنت غوښتنه کول ........ ٢٧
د سورت الملک(تبارک الذي) تلاوت کول ........ ٢٧
د لورګانو په صحیح ډول پالنه کول ........ ٢٨
د مور خدمت کول ........ ٢٩
د پلار خدمت کول ........ ٢٩
د نابالغ اولاد په مړینه صبر کول ........ ٣٠
د ذکر کوونکو په مجلس کې کېناستل ........ ٣٠
د توحید په عقیده وفات کېدل ........ ٣١
د الله تعالی د رضا لپاره روژه نیول او وفات کېدل ........ ٣٢
د تلاوت سجده کول ........ ٣٢
ډېرې سجدې کول ........ ٣٣
تر اوداسه وروسته دعاء کول ........ ٣٤
په مسجد کې ډېر ایسارېدل ........ ٣٤
د الله تعالی په لاره کې جهاد کول ........ ٣٥
له حیوانانو سره ښه چلند کول ........ ٣٧
ایمان او نېک عمل ........ ٣٨
تقوی کول ........ ٣٨

د الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت کول ........................ ٣٨

د الله تعالی پر دین استقامت ........................ ٣٩

رښتیا ویل ........................ ٣٩

ښایسته اعمال کول ........................ ٤٠

الله تعالی ته ډېرې توبې ویستل ........................ ٤٠

په نېکو اعمالو کې د نورو څخه مخکې والی کول ........................ ٤١

اخلاص ........................ ٤١

جګړه نه کول ........................ ٤٢

څلور نېکمرغه خبرې ........................ ٤٣

څلور غوره ځانګړتیاوې ........................ ٤٣

لس د مطلب نه ډکې خبرې ........................ ٤

لمونځ ........................ ١

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَسَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ؛ أَمَّا بَعْدُ:

گرانو لوستونکو!!!

د الله جَلَّ جَلَالُهُ ډېر لوی احسان دی، په خپلو بنده گانو باندې، چې ښکلې څېره او ښکلی صورتونه، ښکلي غړي او ښکلي اندامونه، ښکلی مخ او ښکلي غوږونه، ښکلې شونډې او ښکلې غاښونه، ښکلې غاړه او ښکلې لاسونه، ښکلې پښې او د بدن نور ټول شیان الله تبارک وتعالی انسان ته مفت او بې پېسو ورکړي دي، داسې نعمتونه، چې سړی ورته حیران شي او دومره ډېر، چې الله جَلَّ جَلَالُهُ یې په اړه فرمایي:

﴿ وَإِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ﴾[النحل:١٨]

ژباړه: که چېرې د الله جَلَّ جَلَالُهُ نعمتونه وشمېرئ؛ نو هېڅ یې شمېرلی نشئ.

د دې احساناتو سره سره، الله جَلَّ جَلَالُهُ د انسان لپاره داسې جنت تیار کړی، چې نه یې په سترگو لیدلي او نه یې په غوږونو اورېدلي دي.

❖ الله تعالی یې په اړه فرمایي:

﴿١﴾- داسې باغونه چې د هغوی همېشنی استوگنځی به وي هغوی به په خپله هم په کې ننوځي او د هغو له پلرونو نیکونو او دهغوی له مېرمنو او د هغو له اولادونو څخه هر څوک صالحان وي، هغوی به هم له هغو سره هلته لاړ شي.[الرعد:٢٣]

﴿٢﴾- هغو ته به نه هلته څه تکلیف ورسېږي او نه به له هغه ځایه وویستل شي.[الحجر:٤٨]

﴿٣﴾- هغه د اسمانونو او ځمکې په شان پراخه دی.[العمران:١٣٣]

﴿٤﴾- مېوې يې نه ختمېدونکې او سيورى به يې همېشه وي.[الرعد:٣٥]

﴿٥﴾- په جنت کې به لوږه او تنده نه وي.[طه:١١٨]

﴿٦﴾ - د دغو نعمتونو(او جنتونو)په منځ کې به د حيادارو سترګو خاوندانې وي،چې له دغو جنتيانو مخکې به هغوى انسان يا پېرى نه وي لمس کړي.[الرحمن:٥٦]

﴿٧﴾ - د هغوى مخې ته به د سپينو زرو لوښي او د ښېښو ګيلاسونه ګرځول کېږي.[الدهر:١٥]

﴿٨﴾- په هغه کې به لوړ د ناستې تختونه وي او ډکې پيالې به ايښودل شوې وي،پېر بالښتونه به قطار قطار ايښې وي او ښکلي فرشونه به غوړېدلې وي.[الغاشيه:١٢-١٦]

﴿٩﴾- نن جنتيان په خوندونو اخېستلو کې بوخت دي،هغوى او د هغوى ښځې به په ګڼو سيورو کې وي،چې پر تختونو به ناست او بالښتونو ته به يې تکيه ولې وي.[يس:٥٥-٥٦]

﴿١٠﴾- او د هغوى د خدمت لپاره به داسې هلکان ګرځي،چې تل به په هلکولۍ کې وي.[الدهر:١٩]

﴿ ١١﴾ - (جنتيانو ته به په جنت کې)بې حسابه رزق ورکول کېږي.[المؤمن:٤٠]

❖ رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه فرمايي:

﴿١﴾- جنت اته دروازې لري.[بخاري/١٧٩٨]

﴿٢﴾ - د جنت د هرې دروازې پلنوالى به يو زر دوه سوه(١٢٠٠)کيلو متره وي.[مسلم/١٩٤]

﴿٣﴾- په جنت کې به د غمي په اندازه ځای هم د دُنیا له هر شي څخه غوره وي.[بخاري/٣٢٥]

﴿٤﴾- د قیامت په ورځ به تر ټولو مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت دراوزې ته راشي او هغه به خلاصه کړي.[مسلم/١٩٦]

﴿٥﴾- په جنت کې سل درجې دي،چې د هرو دوو درجو تر منځ سل کاله واټن پروت دی.[ترمذي/٢٠٥۴]

﴿٦﴾- د جنت د ټولو ماڼیو لوښي به د سرو او سپینو زرو وي،په دې ماڼیو کې به تل د عود خوشبو لرگي بل وي،چې ټولې ماڼې به یې معطري کړې وي د جنتیانو له خولو څخه به د مشکو بوی ځي،هلته به لاړې،پوزه بهېدل،او د حاجت رفع کول هېڅ نه وي،ټول جنتیان به په خپل منځ کې لکه د شاتو او شکرو خواږه وي،له یو بل سره به یې په زړه کې حسد او بغض نه وي او د هرې ساه په اخېستلو سره به د الله تعالی حمد او ثناء وایي.[بخاري/کتاب بدء الخلق/باب ماجاء في صفة الجنة]

﴿٧﴾- کله چې جنتي له ونې څخه مېوه راوشلوي؛ نو پر ځای به یې بله مېوه راشنه شي.[مجمع الزوائد/١٠-۴١۴]

﴿٨﴾- په جنت کې به د ملغلرو خېمې وي،چې عرض او سور به یې شپېته(٦٠)میله وي.[مسلم/٢٨٣٨] او داسې نور...

نو د داسې ځای د تللو لپاره ما شپېته(٦٠)عملونه ذکر کړي،الله تعالی دې پرې موږ او تاسې ته عمل نصیب کړي؛آمین؛

ستاسې دیني ورور او ستاسې د دعا په هیله:

ارشاد احمد سراج کاموي

جلال کوټ/فقیر آباد کلې

١٣٩٧/١٢/١٥

2

﴿١﴾

## په اخلاص سره د توحيد شاهدي ورکول

له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله **صلی الله** عليه وفرمايل:

﴿مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ ،دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾[١]

ژباړه: څوک چې د زړه له اخلاصه د دې خبرې شاهدي ووايي، **چې له الله** تعالی پرته، بل ريښتينی معبود نشته،جنت ته داخلېږي.

﴿٢﴾

## د الله تعالی نومونه(اسماء الحسنی)يادول

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی،چې رسول الله صلی **الله عليه** وسلم وفرمايل:

﴿إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾[٢]

ژباړه: يقينًا چې الله تعالی يو کم سل يعنې **نهه نوي(٩٩)نومونه لري،چا** چې هغه ياد(حفظ)کړل،**جنت ته به داخل شي.**

---

(١)-مسلم(٥/٢٣٦).

(٢)-بخاري(٢٥٨٥)ومسلم( ٢٦٧٧).

﴿٣﴾

## ايات الكرسي لوستل

له ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

﴿ مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ دُخُولَ الْجَنَّةِ إِلَّا الْمَوْتُ﴾(١)

ژباړه: څوک چې له هر فرض لمانځه وروسته آيت الكرسي لولي؛ نو د هغه او جنت ترمنځ به يوازې مرگ مانع(پرده)وي.

﴿٤﴾

## پنځه وخته لمونځ کول

له عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

﴿ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كَتَبَهُنَّ اللَّهُ عَلَى الْعِبَادِ مَنْ جَاءَ بِهِنَّ لَمْ يُضَيِّعْ مِنْهُنَّ شَيْئًا اسْتِخْفَافًا بِحَقِّهِنَّ كَانَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ وَمَنْ لَمْ يَأْتِ بِهِنَّ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ وَإِنْ شَاءَ أَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ﴾(٢)

ژباړه:الله تعالی پر بندگانو پينځه وخته لمونځونه فرض کړي دي،څوک يې چې له حقونو سره يو ځای او له ضايع کولو پرته اداء کړي؛ نو الله تعالی

---

(١)-المشكاة(٢١٣/١)،وروَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ،وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ ومرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (٢/ ٧٧٣)وفيه:اعْلَمْ أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يُعْمَلُ بِهِ فِي فَضَائِلِ الْأَعْمَالِ.

(٢)-سنن النسائي(٤٥٧)تحقيق الألباني:صحيح،ابن ماجة ( ١٤٠١ ).

ورسره د جنت وعده کړې او څوک يې چې نه اداء کوي؛ نو الله تعالی ورسره هيڅ وعده نه ده کړې،که يې خوښه شي عذاب به ورکړي او که يې خوښه شي؛ نو جنت ته به يې داخل کړي.

﴿٥﴾

## د سهار او مازيګر او يا هم د سهار او ماسخوتن د لمونځونو پابندي کول

له ابو موس اشعري رضي الله عنه نه روايت دی،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

﴿ مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾(١)

ژباړه:چا چې د دوو يخو وختونو(يا د سهار او مازيګر او يا هم د سهار او ماسخوتن)لمونځونه وکړل،جنت ته داخلېږي.

﴿٦﴾

## د سنت لمونځونو پابندي کول

ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها وايي: ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه واورېدل،چې فرمايل يې:

﴿ مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ﴾(٢)

ژباړه:څوک چې د الله تعالی د رضاء لپاره د ورځې دولس(١٢)رکعته لمونځ له فرض لمونځ پرته اداء کړي،الله تعالی ورته په جنت کې يو کور جوړوي او يا هم ورته جوړېږي.

---

(١)-بخاري(٥٧٤)ومسلم(٦٣٥).

(٢)-مسلم(٧٢٨)وابوداؤد(١٢٥٠).

ام حبیبه رضي الله عنها وایي: له کله نه چې مې دا حدیث له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلی؛ نو دا دولس رکعته لمونځ مې نه دی پرېښی.

**هغه دولس رکعته لمونځ دا دي**

- څلور رکعته د ماسپښین له فرض لمونځ څخه مخکې.
- دوه رکعته د ماسپښین لمونځ د فرضو نه وروسته.
- دوه رکعته د ماښام د لمانځه د فرضو نه وروسته.
- دوه رکعته د ماسخوتن له فرضو وروسته.
- دوه رکعته د سهار د فرضو مخکې.

په یو بل حدیث کې چې:

**﴿ مَنْ صَلَّى الضُّحَى سَجْدَتَيْنِ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِينَ ، وَمَنْ صَلَّى أَرْبَعًا كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِينَ ، وَمَنْ صَلَّى سِتًّا كُفِيَ ذَلِكَ الْيَوْمِ ، وَمَنْ صَلَّى ثَمَانِيًا كَتَبَهُ اللَّهُ مِنَ الْعَابِدِينَ ، وَمَنْ صَلَّى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ﴾**(۱)

ژباړه:

- چا چې د څاښت لمونځ وکړه؛نو د غافله خلکو څخه به نه لیکل کېږي.
- چا چې څلور رکعته وکړ؛ نو د فرنبرداره څخه به ولیکل شي.
- چا چې شپږ وکړ؛نو په دې ورځ کې به ورله کافي شي.
- چا چې اته رکعته وکړ؛ نو د عابدانو څخه به ولیکل شي.

---

(۱)-السنن الصغری للبیهقي - مشکول (۱/ ۲٦۷).

> چا چې دولس رکعته وکړ؛ نو الله تعالی به ورته په جنت کې کور جوړ کړي.

﴿٧﴾

## د څاښت لمونځ کول

له ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿ مَنْ صَلَّى الضُّحَى أَرْبَعًا، وَقَبْلَ الْأُولَى أَرْبَعًا بُنِيَ لَهُ بِهَا بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ﴾[1]

ژباړه:چاچې څلور رکعته د څاښت لمونځ وکړ او د لومړي لمونځ(ماسپښين)څخه مخکې څلور رکعته لمونځ وکړي؛ نو د دې لپاره به په جنت کېط کور جوړ شي.

﴿٨﴾

## په جمعې سره لمونځ اداء کول

له ابوهریره رضي الله عنه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ﴾[2]

---

[1]-المعجم الأوسط(٨٨/٥)د حدیث نمبر(٤٧٥٣)،امام الباني وایي،چې دا حدیث حسن دی، سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها(٤٦١/٥).

[2]-بخاري(٦٣١)ومسلم(٦٦٩).

ژباړه: څوک چې د سهار یا ماښام پر وخت جومات ته ځي؛ نو الله تعالی ورته په جنت کې مېلمستیا تیاروي.

﴿۹﴾

## په تکبیر اولی سره لمونځ اداء کول

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿ مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِنْ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنْ النِّفَاقِ﴾(۱)

ژباړه: څوک چې د الله تعالی لپاره پرلېسې څلوېښت ورځې په جمعې سره لمونځ اداء کړي،داسې چې لومړنی تکبیر هم ونیسي؛ نو الله تعالی ورته دوه ډوله خلاصون لیکي: یو له دوزخ څخه خلاصون او دویم له نفاق څخه.

﴿۱۰﴾

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کول

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿ كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَنْ يَأْبَى قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى﴾(۲)

---

(۱)-جامع الترمذي او امام الباني وايي،چې دا حدیث صحیح دی، سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها(۶/۳۱۴).

(۲)-بخاري(۶۸۵۱).

ژباړه: زما ټول امت جنت ته داخلېږي،مګر هغه کس چې انکار یې وکړ،صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه،چې ای د الله تعالی رسوله! څوک انکار کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې زما تابعداري وکړه،جنت داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه،هغه نکار وکړ.

نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کول،جنت ته د داخلېدو یو بهترین عمل دی.

﴿١١﴾

## پر الله تعالی توکل کول

له عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالُوا وَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ هُمْ الَّذِينَ لَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾(١)

ژباړه: زما اُمت اویا زره(٧٠٠٠٠)خلک به له حساب کتاب پرته جنت ته داخل شي،صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه،چې ای د الله رسوله! دا خلک څوک دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:دا هغه خلک دي چې دم،تعویذ او بدفالي نه کوي،پر بدن داغ نه لګوي او پر خپل رب توکل او اعتماد کوي.

(١)-مسلم(٢١٨).

﴿١٢﴾

## د الله تعالى ذکر کول

له عبدالله بن شداد رضي الله عنه څخه روایت دی،چې د(بنو عذره قبیلې)درې تنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته حاضر شو،بیا یې اسلام راووړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

د دې خلکو د خوراک او څښاک بندوبست به څوک وکړي؟ طلحه رضي الله عنه وویل: زه به یې بندوبست وکړم،په دې توګه هغه درې واړه له طلحه رضي الله عنه سره مېلمانه شول،څه وخت وروسته نبي صلی الله علیه وسلم یو لښکر ولېږه، چې له دې دېیو تنو څخه یو پکې و او هغه په جګړه کې شهید شو، بل ځل بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یو لښکر واستاوو، چې له دې پاتې دوو کسانو څخه یو یې پکې و،هغه هم په جګړه کې شهید شو،دریم تن یې پر خپله بسرته فوفات شو، طلحه رضي الله عنه وایي:ما په خوب کې دا درې واړه،ملګري په حنت کې ولیدل.

هغه نن چې پر رښینا وفات شوې و،له ټولو څخه مخکې و،دویم: شهید شوی کس د هغه پسې او څوک چې لومړی شهید شوی وو،هغه له ټولو څخه وروسته.

هغه له ټولو څخه وروسته،زه له خپل خوب څخه لږ پرېشانه شوم:؛ نو د رسول الله صلی الله عیه وسلم حضور ته ورغلم او خپل خوب مې ورته ووایه! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:ته ولې له خپل خوب څخه تعجب کوې؟

د الله تعالی پر وړاندې له هغه مؤمن څخه هیڅوک هم غوره نه دی، چې د اسلام په حالت کې بوډا شوی وي؛ له هغه درېیو تنو څخه درېیم یې د خپل تسبیح،تکبیر او تهلیل په وجه تر خپلو ملګرو مخکې دی.(١)

﴿١٣﴾

## له ورونو او دوستانو سره ملاقات کول

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

کوم بنده چې د الله تعالی د رضاء ترلاسه کولو لپاره د خپل ورور(او دوست)ملاقات ته ورشي؛ نو له اسمان څخه یو اواز کوونکی داسې اواز کوي:نېکبختي دې نصیب او جنت دې مبارک شه او الله تعالی هم د خپل عرش له پاسه فرمایي:

زما بنده زما د رضاء ترلاسه کولو لپاره(له خپل ورور،دوست سره)ملاقات وکړ، د هغه مېلمستیا زا پر غاړه ده او زه به هغه د جنت څخه پر کم شي راضي نشم.(٢)

(١)-مسند احمد(١۴٠١).

(٢)-وګوره،جنت ته د تلو لارې(ص،٩۴ او٩٥)،لیکوال:محمد ظاهر عمار.

﴿۱۴﴾

## په اخېستلو او خرڅولو کې نرمي کول

له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

الله تعالی یو کس جنت ته داخل کړ،دې کس به په اخېستلو،خرڅولو او پور ادا کولو او غوښتلو کې له نرمی څخه کار اخېسته.(۱)

﴿۱۵﴾

## د الله تعالی څخه وېره کول

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ قَالَ التَّقْوَى وَحُسْنُ الْخُلُقِ﴾(۲).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د داسې عمل په اړه پوښتنه وکړه،چې تر هر بل عمل ډېر خلک جنت ته داخل کېږي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: له الله تعالی څخه وېره او ښه اهلاق.

(۱)-رواه مسند احمد ونسائي.

(۲)-ترمذي(۲۰۰۴)،السلسلة الصحيحة(۹۷۷).

﴿١٦﴾

## د خپل مال په حفاظت کې وژل کېدل

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ مَظْلُومًا فَلَهُ الْجَنَّةُ﴾[1]

ژباړه: له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:څوک چې د خپل مال په حفاظت کې ووژل شو؛نو هغه به جنت ته ځي.

﴿١٧﴾

## د یتیم پالنه کول

﴿عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا﴾[2]

ژباړه: له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه او د یتیم سرپرست به په جنت کې داسې یو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د شهادت ګوتې او منځنۍ ګوتې ته اشاره وکړه او د دواړو ترمنځ یې جدا والی راوست.

---

[1]-نسايي(۴۰۹۱)،صحيح الجامع الصغير.

[2]-بخاري(۵۵۴٦)والترمذي(۱۹۱۸).

﴿١٨﴾

## د ژبې او شرمگاه حفاظت کول

﴿عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ﴾(١)

ژباړه: له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چا چې ماته د دوو ژامو ترمنځ(د ژبې)او د دواړو پښو ترمنځ(د شرمگاه د ساتنې)ضمات راکړ؛نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم.

﴿١٩﴾

## له سورت اخلاص سره مينه کول

﴿عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: أَقْبَلْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ رَجُلاً يَقْرَأُ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ، فَقَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَجَبَتْ، قُلْتُ: وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: الْجَنَّةُ﴾(١)

ژباړه:له ابوهريره رضي الله نه څخه روايت دی هغه وايي،چې زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره يو د داسې سړي خواته راغلو،چې﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ (سورت اخلاص)يې تلاوت کاوه؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:واجب شو،ما ترې پوښتنه وکړه:څه شی واجب شو؟ويې فرمايل:جنت.

---

(١)-أخرجه البخاري (رقم (٦٤٧٤).

(٢)-سنن الترمذي(٢٨٩٧)وقال:هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

﴿٢٠﴾

## جوماتونو ته ډېر تلل

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دی،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

﴿ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ﴾(١)

ژباړه: څوک چې د سهار يا ماښام پر وخت جومات ته ځي؛ نو الله تعالی ورته په جنت کې مېلمستيا تياروي.

﴿٢١﴾

## ديني علم زده کول

﴿ عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ...وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ﴾(٢)

ژباړه:له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:...څوک چې د علم د ترلاسه کولو لپاره په کومه لار لاړ؛ نو الله تعالی به ورته د دې په بدل کې د جنت لاره اسانه کړي.

(١)-بخاري(٦٣١)ومسلم(٦٦٩).

(٢)-صحيح مسلم(٢٦٩٩)وصحيح سنن ابن ماجة(٢٢٥)ومسند أحمد(٧٤٢١).

﴿٢٢﴾

## حيا كول

﴿ عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْإِيمَانُ فِي الْجَنَّةِ ﴾(١)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايي،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حيا د ايمان څخه ده او ايمان به په جنت کې وي،يا ايماندار به په جنت کې وي.

﴿٢٣﴾

## له ضرورت پرته سوال نه كول

﴿ ... عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَكَفَّلَ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ شَيْئًا، وَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ؟ فَقَالَ ثَوْبَانُ: أَنَا. فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا﴾(٢)

ژباړه: له ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايي،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:داسې به څوک وي چې ماته د دې خبرې ضمانت راکړي،چې له هيچا به سوال نه کوي او زه ورته د جنت ضمانت ورکړم؟ ثوبان رضي الله عنه وويل: زه. بيا هغه له هيچا څه نه دي غوښتي يعنې: د هيچا يې بيا سوال نه دى کړى.

---

(١)-سنن الترمذي(٢٠٠٩)ومسند أحمد(١٠٥١٩)،امام الباني وايي،چې دا حديث صحيح دى. السلسلة الصحيحة للألباني (١/ ٨٩٣).

(٢)-ابوداؤد(١٦٤٣)ومسند احمد(٢٢٤٢٨)؛امام الباني وايي،چې صحيح دى. صحيح وضعيف سنن أبي داود (٤/ ١٤٣).

﴿٢٤﴾

## د سبحان الله العظيم وبحمده ډېر ذکر کول

﴿ عَنْ جَابِرٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ﴾(١)

ژباړه:له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي،چې ویې فرمایل:چا چې سبحان الله العظیم وبحمده وویله؛ نو د هغه لپاره به په جنت کې د خرما ونه کښنول شي.

﴿٢٥﴾

## له تکبر،خیانت او قرض څخه ډډه کول

﴿ عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فَارَقَ الرُّوحُ الْجَسَدَ، وَهُوَ بَرِيءٌ مِنْ ثَلَاثٍ: مِنْ الْكِبْرِ وَالْغُلُولِ وَالدَّيْنِ، دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾(٢)

ژباړه: له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:کوم روح چې له بدن څخه ووځي او هغه له درېو شیانو:تکبر،خیانت او قرض څخه خلاص وي؛نو هغه به جنت ته داخلېږي.

---

(١)-دا حدیث ترمذي روایت کړی او امام الباني وایي،چې صحیح دی. صحیح وضعیف سنن الترمذي (٧/ ٤٦٤).

(٢)-الترمذي(١٥٧٣)والسلسلة الصحیحة للألباني (٦/ ٢٨٨).

﴿٢٦﴾

## ډېر ډېر اذانونه کول

﴿عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ﴾(١)

ژباړه:له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې(د لمانځه لپاره)دولس کاله اذان وکړ؛ نو د هغه لپاره جنت واجب شو.

﴿٢٧﴾

## د اسلامي احکامو پابندي کول

﴿ عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا صَلَّتْ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا، دَخَلَتْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَآءَتْ﴾(٢)

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کومه ښځه چې پنځه وخته لمونځ وکړي،د رمضان میاشتې روژې ونیسي،خپله حیا خوندي وساتي او د خاوند خبره ومني؛نو د جنت په کومه دروازه یې چې خوښه شي،داخله دې شي.

(١)-المشكاة (٦٧٨)والصحيحة (٤٢)وصحيح الترغيب والترهيب(٢٤٢).

(٢)-أخرجه ابن حبان وصححه كما في موارد الظمآن (رقم ١٢٩٦) وصححه الألباني في صحيح الجامع (رقم ٦٦٠).

﴿٢٨﴾

## د الله تعالی رضا لپاره حج کول

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:...وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ﴾[1]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مبرور حج(د نېکۍ او د الله تعالی د رضا حج)ثواب جنت پرته بل شی نه دی.

﴿٢٩﴾

## د اوداسه وروسته دوه رکعته لمونځ کول

﴿عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ، فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ﴾[2]

ژباړه:له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:کوم مسلمان چې اودس وکړي او ښایسته اودس وکړي،بیا دوه رکعته لمونځ ادا کړي،چې په دې کې هم د زړه د مخ له طرفه متوجه وي؛ نو په دې ورته الله تعالی جنت واجبوي.

---

(١)-صحیح وضعیف سنن الترمذي (٢/ ٤٣٣)وابن ماجة (٢٨٨٨).

(٢)-أخرجه مسلم (رقم ٢٣٤).

﴿٣٠﴾

## پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود لوستل

﴿ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ عَلَيَّ خَطِئَ طَرِيقَ الْجَنَّةِ﴾[١]

ژباړه:له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې پر ما درود شریف هېر کړ[٢]؛ نو هغه د جنت لاره ورکه کړه.

﴿٣١﴾

## لاحول ولا قوة الا بالله ډېر ویل

﴿ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ ... فَقَالَ لِي يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ، قُلْ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، فَإِنَّهَا: كَنْزٌ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ﴾[٣]

ژباړه:له ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې موږ په یو سفر کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو؛نو ماته یې وفرمایل: یا عبدالله بن قیس! لاحول ولا قوة الا بالله ووایې،ځکه چې دا د جنت د خزانو څخه یوه خزانه ده.

---

(١)-رواه ابن ماجه(٩٠٨)؛د دې حدیث سند صحیح دی.الصحیحة (٢٣٣٧).

(٢)-یعني:درود شریف یې پرېښود.

(٣)-بخاري(٦٩٧٢).

﴿٣٢﴾

## په کاروبار کې له نرمۍ او سخاوت څخه کار اخیستل

﴿ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَدْخَلَ اللَّهُ الْجَنَّةَ رَجُلًا كَانَ سَهْلًا قَاضِيًا وَمُقْتَضِيًا وَبَائِعًا وَمُشْتَرِيًا﴾(١)

ژباړه: له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی یو شخص په دې وجه جنت ته داخل کړ، چې د فېصلې،تقاضا،اخېستو او خرڅولو په وخت کې یې له نرمۍ(او سخاوت)حخه کار اخېسته.

﴿٣٣﴾

## پر مصیبتونو صبر کول

﴿عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ ابْنَ آدَمَ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُونَ الْجَنَّةِ﴾(٢)

ژباړه:له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی فرمایي:ای د ادم زویه! که د مصبت او تکلیف په پېل

(١)-صحیح وضعیف سنن ابن ماجة (٥/ ٢٠٢)؛ حسن تخریج المختارة (٣٥٤ - ٣٥٥) ، الصحیحة (١١٨١).

(٢)-صحیح وضعیف سنن ابن ماجة (٤/ ٩٧) المشكاة (١٧٥٨).

کې له صبر څخه کار واخلي او د ثواب نيت ولري؛نو په ثواب کې به يې جنت غوره کړي.

﴿٣۴﴾

## په ړندېدو صبر کول

﴿ عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ قَالَ إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ يُرِيدُ عَيْنَيْهِ﴾[1]

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل،چې ويې فرمايل: الله تعالی فرمايي: کله چې زه خپل خوښ بنده د دوه شيانو په وسيله يعنې: د سترګو په محرومېدو او زما يم او هغه صبر وکړي،نو زه ورته په بدل کې جنت ورکول.

﴿٣٥﴾

## له کبيره او لويو ګناهونو ځان ساتل

﴿ أَنَّ أَبَا أَيُّوبَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَاءَ يَعْبُدُ اللَّهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ وَيَصُومُ رَمَضَانَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ فَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ﴾[2]

ژباړه:له ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی،چې بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې (د قيامت په ورځ په

---

[1]-بخاري(٢٩٥٣).

[2]-رواه النسائي(۴٠٠٩).

داسې حال کې)راغی، چې هغه د الله تعال عبادت کاوه،لمونځ يې ادا کاوه،زکات يې ورکاوه، د رمضان د مياشتې روژې يې نيوې او له کبيره گناهونو څخه يې ځان ساته،بې شکه،چې د ده لپاره جنت دی.

﴿٣٦﴾

## له الله تعالی څخه د جنت غوښتنه کول

﴿ عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتْ الْجَنَّةُ اللَّهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ ﴾[1]

ژباړه:له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:څوک چې درې ځلې د جنت سوال وکړي؛ نو جنت وايي: ای الله! دغه سړی جنت ته داخل کړه.

﴿٣٧﴾

## د سورت الملک(تبارک الذي) تلاوت کول

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:إِنَّ سُورَةً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا هِيَ إِلَّا ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ فَأَخْرَجَتْهُ مِنَ النَّارِ وَأَدْخَلَتْهُ الْجَنَّةَ﴾[2]

ژباړه:له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی،هغه وايي: بېشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:په قرآن کريم کې يو داسې سورت شته

---

([1])-النسائي(٥٥٢١)وابن ماجه(٤٣٤٠)والترمذي(٢٥٧٢).

([2])-أخرجه الحاکم (٥٤٠/٢ ، رقم ٣٨٣٨) وقال : صحيح الإسناد.

چې دېرش اياتونه لري،د يو سړي سفارش وکړ؛ نو هغه يې له اور څخه راووسته او جنت ته يې داخل کړ.

**دا کوم سورت دی چې دېرش اياتونه لري:**

امام حاکم رحمه الله فرمايي:

﴿" وَهِيَ سُورَةُ الْمُلْكِ "﴾المستدرك على الصحيحين للحاكم (۲/۵۴۰).

ژباړه: دا سورت الملک(تبارک الذي) دی.

**﴿۳۸﴾**

## د لورگانو په صحيح ډول پالنه کول

﴿عن أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ وَأَشَارَ بِأُصْبُعَيْهِ﴾[1]

**ژباړه:له انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:چا چې دوه لورگانې(په صحيح ډول) وپاللې،زه او هغه به د دې دواړو(گوتو)په شان جنت ته داخلېږو او له دې خبرې سره يې په دواړو گوتو اشاره وکړه.**

---

(۱)-أخرجه مسلم (رقم ۲۶۳۱) ، والترمذى (رقم ۱۹۱۴) والحاكم (رقم ۷۳۵۰)وقال : صحيح الإسناد.وأخرجه أيضًا : البخارى فى الأدب المفرد (رقم ۸۹۴) والطبرانى فى الأوسط (رقم ۵۵۷).

﴿٣٩﴾

## د مور خدمت کول

﴿عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ السَّلَمِيِّ أَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ... فَقَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟ قَالَ: نَعَمْ! قَالَ: فَالْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ رِجْلَيْهَا﴾(١)

ژباړه:له معویه بن جاهمه سلمي رضي الله عنه څخه روایت دی،چې جاهمه رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه:ایا ستا مور ژوندۍ ده؟ هغه ورته وویل: هو! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایل: د هغې خدمت کوه،ځکه چې د هغې تر قدمونو لاندې جنت دی.

﴿٤٠﴾

## د پلار خدمت کول

﴿عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَأَضِعْ ذَلِكَ الْبَابَ أَوْ احْفَظْهُ﴾(٢)

ژباړه:له ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دی،هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل،چې فرمایل به یې:پلار جنت ته(د ننوتلو)تر ټولو غوره دروازه ده،اوس یې که(د خپلې نافرمانۍ له امله)ضایع کوې او که(د اطاعت په وجه یې)محفوظه ساتې.

---

(١)-رواه النسائي(٣١٠٤)و شعب الإيمان لأبو بكر البيهقي (٦/ ١٧٨).

(٢)-جامع الأحاديث (٢٢/ ٤٩٨)وأخرجه أحمد (٢٧٥٩٢) ، والترمذى (١٩٠٠) وقال : صحيح . وابن ماجه (٣٦٦٣) ، وابن حبان (٤٢٥) ، والحاكم (٢٧٩٩) ، وقال : صحيح الإسناد.

﴿٤١﴾

## د نابالغ اولاد په مړينه صبر کول

﴿عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنَ النَّاسِ مُسْلِمٌ يمُوتُ لَهُ ثَلاَثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ، لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلاَّ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ﴾(١)

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:د مسلمان بنده چې درې نابالغه ماشومان وفات شي؛ نو الله تعالی پر دې ماشومانو د خپل رحمت له امله هغه هم جنت ته ننباسي.

﴿٤٢﴾

## د ذکر کوونکو په مجلس کې کېناستل

﴿عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ: مَا غَنِيمَةُ مَجَالِسِ الذِّكْرِ؟ قَالَ: غَنِيمَةُ مَجَالِسِ الذِّكْرِ الْجَنَّةُ الْجَنَّةُ ﴾(٢)

ژباړه:عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمايي:له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې وپوښتل:ای د الله تعالی رسوله! د ذکر د مجالسو گټه څه ده؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د ذکر د مجالسو گټه جنت دی.او په بل حديث کې راځي:

---

(١)-جامع الأحاديث (١٩/ ١٣٨)وأخرجه البخارى (٤٢١/١ ، رقم ١١٩١) ، والنسائى (٢٤/٤ ، رقم ١٨٧٣).

(٢)-جامع الأحاديث (١٤/ ٤٠٠)وأخرجه أحمد (١٧٧/٢ ، رقم ٦٦٥١) قال الهيثمى (٧٨/١٠): إسناده حسن.

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې د جنت پر باغونو تېرېږئ؛ نو مېوې ترې راټولوئ،صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! د جنت د باغونو څخه څه شی مراد دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:د الله تعالی د ذکر حلقې.(١)

﴿٤٣﴾

## د توحید په عقیده وفات کېدل

﴿عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾(٢)

ژباړه:له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د چا چې وروستۍ خبره﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾وي؛ نو جنت ته به داخل شي.

(١)-دا حدیث ترمذي(٣٥١٠)نمبر حدیث سره روایت کړی.

(٢)-أخرجه أحمد (٢٢١٨٠)وأبو داود (٢٩٤٥)والطبراني ( ٧٢٧) والحاكم (١٢٩٩)وقال: صحيح الإسناد

## ﴿۴۴﴾

## د الله تعالی د رضا لپاره روژه نیول او وفات کېدل

له حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿...وَمَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾[1]

ژباړه:...او څوک چې د الله تعالی د رضاء لپاره په کومه ورځ روژه ونیسي او پر همدې یې خاتمه وشي، نو هغه جنت ته داخلېږي.

## ﴿۴۵﴾

## د تلاوت سجده کول

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي، يَقُولُ: يَا وَيْلِي! أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ. وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِي النَّارُ﴾[2]

ژباړه: کله چې بني آدم د تلاوت سجده کوي، شیطان ترې په څنګ کېږي، ژاړي او وایي، چې ای زما بدبختی! د آدم زوی ته د سجدې حکم

---

[1]-جامع الأحاديث (۲۱/ ۱۷۱) وأخرجه أحمد (۳۹۱/۵ رقم ۲۳۳۷۲) قال الهيثمي (۲۱۵/۷) رجاله رجال الصحيح غير عثمان بن مسلم البتي وهو ثقة.

[2]-جامع الأحاديث (۲/ ۴۲۰) وأخرجه أحمد (۹۷۱۱) ومسلم (۸۱) وابن ماجه (۱۰۵۲) وابن حبان (۲۷۵۹).

وشو، هغه وکړه او جنت ته ولاړ؛ خو ماته چې د سجدې حکم وشو،ما انکار وکړ ځکه؛ نو ځای مې دوزخ شو.

﴿٤٦﴾

## ډېرې سجدې کول

﴿عن مَعْدَانُ بْنُ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيُّ قَالَ: لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ أَوْ قَالَ قُلْتُ بِأَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ؟ فَسَكَتَ. ثُمَّ سَأَلْتُهُ؟ فَسَكَتَ. ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ؟ فَقَالَ: سَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ﴾(١)

ژباړه: له معدان بن ابي طلحه یعمري رضي الله عنه نه روایت هغه وایي،چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له آزاده کړی شوي غلام ثوبان رضي الله عنه سره مخ شوم،ما ورته وویل:ماته داسې یو عمل را وښایه چې په ترسره کولو سره یې جنت ته لاړ شم او د الله تعالی ډېر خوښ هم وي؟

ثوبان رضي الله عنه غلی وو؛ نو ما ترې بیا پوښتنه وکړه؟ بیا هم غلی وو؛ نو ماچې په درېیم ځل ورځخه پوښتنه وکړه؛ نو هغه وویل: همدا خبره ما هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتلې وه؛ نو د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: ته د الله تعالی د رضاء لپاره ډېرې سجدې پر ځان لازمي کړه.

---

(١)-أخرجه أحمد (٢٢٤٣١) ، ومسلم (٤٨٨) ، والترمذي (٣٨٩) وقال : حسن صحيح.

﴿٤٧﴾

## تر اوداسه وروسته دعاء كول

له عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:څوک چې اودس وکړي او بيا دا دعاء ووايي:

﴿ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾(١)

نو د هغه لپاره د جنت اته واړه دراوازې پرانستل کېږي،په هره دراوزه چې يې خوښه وي،داخلېدې شي.

﴿٤٨﴾

## په مسجد کې ډېر ايسارېدل

ابو درداء رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل،چې فرمايل يې:جومات د هر پرهېز گار انسان کور دی او الله تعالی د هر هغه کس کفيل دې، د چا کور چې جومات وي،ينې د رحمت او مهربانۍ، پُل صراط د سالم تېرېدو او د الله تعالی د خوښې د مقام(جنت)کفيل دی.(٢)

(١)-رواه الترمذي؛ او امام الباني وايي،چې دا حديث صحيح دی. صحيح وضعيف سنن الترمذي (١/ ٥٥).

(٢)-الترغيب والترهيب(١٢١-١٢٢).

د کفیل مانا ده: ذمه وار،یعنې الله تعالی پر نوموړي کس د رحمت او مهربانی،پر پُل صراط د سالم تېرېدو او جنت ته د داخلېدو ذمه واري پخپله غاړه اخلي.(١)

﴿٤٩﴾

## د الله تعالی په لاره کې جهاد کول

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

﴿إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ ﴾(٢)

ژباړه: یقینًا د جنت دروازې د تورو د سیورو لاندې دي.

د الله تعالی په لاره کې جهاد کول؛ الله تعالی ته د نږدې کېدو لویه وسیله او غوره نېکي ده او مجاهد په لوړ مقام او غوره مرتبو کې وي.د الله تعالی په لاره کې جهاد کول په نفس او مال دواړو سره وي،الله تعالی فرمایي:

﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ یُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَیَقْتُلُوْنَ وَ یُقْتَلُوْنَ ۟ وَعْدًا عَلَیْهِ حَقًّا فِی التَّوْرٰىةِ وَ الْاِنْجِیْلِ وَ الْقُرْاٰنِ ؕ وَ مَنْ اَوْفٰی بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَیْعِكُمُ الَّذِیْ بَایَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿١١١﴾ ﴾[التوبة:١١١]

ژباړه:حقیقت دا دی،چې الله تعالی له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې پېرلي دي.هغوی د الله تعالی په لاره کې جنګېږي؛ نو وژنې او وژل کېږي.له هغوی سره(د جنت وعده)د الله تعالی

---

(١)-الخصال الموجبة لدخول الجنة(ص،٥٩)،لیکوال:عبدالهادي بن حسن.

(٢)-مسلم(١٩٠٢)والترمذي(١٦٥٩).

پر ذمه يوه كلكه او پخه وعده ده.په تورات او انجيل او قرآن كې او څوک دی،چې له الله تعالی نه زيادت د خپلې ژبنې پوه كوونكی وي؛ نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سَودا چې تاسې له الله تعالی سره كړې ده،همدا تر ټولو ستر برياليتوب دی.

**د الله تعالی پر وړاندې د شهيد ځانګړتياوې:**

له مقدام بن معد كرب رضي الله عنه نه روايت دی،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

﴿لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللَّهِ سِتُّ خِصَالٍ يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنْ الْجَنَّةِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَيَأْمَنُ مِنْ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنْ الْحُورِ الْعِينِ وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقَارِبِهِ﴾[1]

ژباړه:شهيد د الله تعالی پر وړاندې شپږ ځانګړتياوې لري:

١. د وينې د اول څاڅكي په توييدو سره ورته ښښنه كېږي او د مړينې پر مهال به په جنت كې خپل كور ويني.
٢. د قبر د عذاب نه ساتل كېږي.
٣. د قيامت د ورځې له لويې وېرې به په من وي.
٤. پر سر به يې د درناوي داسې تاج كېښودل شي،چې يو ياقوت به يې له دُنيا او په هغې له شته شيانو ډېر غوره وي.
٥. له دوو اوياوو غټو سترګو لرونكو حورو سره به يې نكاح وتړل شي.

---

[1]-أخرجه أحمد (١٧٢٢١)والترمذي ( ١٦٦٣)وقال :حسن صحيح غريب. وابن ماجه ( ٢٧٩٩)والبيهقي في شعب الإيمان (٤٢٥٤).

٦. د خپلو اويا ځپلوانو په حق کې به د شفاعت حق ورکړل شي.

﴿٥٠﴾

## له حيواناتو سره ښه چلند کول

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:أَنَّ رَجُلًا رَأَى كَلْبًا يَأْكُلُ الثَّرَى مِنْ الْعَطَشِ، فَأَخَذَ الرَّجُلُ خُفَّهُ، فَجَعَلَ يَغرِفُ لَهُ بِهِ حَتَّى أَرْوَاهُ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ، فَأَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ﴾[1]

ژباړه:له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوه سړي يو سپی وليد،چې د تندې له امله يې لمده خټه څټله؛ نو دې سړي خپله کلوشه کوهي ته ښکته کړه او سپي ته يې پکې اوبه ورکړې تر دې،چې سپی ښه خړوب شو، الله تعالی د دې سړي دا کار خوښ او جنت ته يې داخل کړ.

رښتيا ده،چې ځينې وخت سړی د يوه وړوکي عمل له کبله جنت ته ځي،په يو بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
جنت او دوزخ د انسان د څپلۍ له بند څخه هم هغه ته نږدې دي.[بخاري/٦٤٨٨]

(١)-صحيح البخاري(١٧١)ومسند أحمد(١٠٧٦٣).

﴿۵۱﴾

## ایمان او نېک عمل

الله تعالی فرمايي:

﴿ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ کَانَتۡ لَهُمۡ جَنّٰتُ الۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ۞﴾[الکهف:۱۰۷]

ژباړه:یقینًا هغه کسانو چې ایمان راوړ او ښه عملونه يې وکړل؛ نو د هغوی مېلمستون به د فردوس(جنت)باغونه وي.

﴿۵۲﴾

## تقوی کول

الله تعالی فرمايي:

﴿اِنَّ الۡمُتَّقِیۡنَ فِیۡ جَنّٰتٍ وَّ عُیُوۡنٍ ۞﴾[الحجر:۴۵]

ژباړه:پرهېزګاران به په باغونو(جنتونو) او چېنو کې وي.

﴿۵۳﴾

## د الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت کول

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَ مَنۡ یُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوۡلَهٗ یُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا ؕ وَ ذٰلِکَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ۞﴾[النساء:۱۳]

ژباړه: څوک چې د الله تعالی او د هغه د پېغمبر اطاعت وکړي،الله به هغه داسې باغونو(جنتونو)ته ننباسي،چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او هغوی به په کې د تل لپاره استوګن وي او همدا ستر بريالیتوب دی.

﴿۵۴﴾

## د الله تعالی پر دین استقامت

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾﴾[حم سجدة:۳۰]

ژباړه: يقينًا هغه کسان چې وايي: رب زموږ الله تعالی دی،بیا نېغ پاتې وي په دې باندې،نازلېږي به په دې باندې ملایکان،چې مه وېرېږئ او مه غمژن کېږئ او خوشحاله شئ په جنت هغه سره،چې وئ تاسې وعده کولی شوه تاسې سره.

﴿۵۵﴾

## رښتیا ویل

الله تعالی فرمايي:

﴿قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ﴾[المائدة: ۱۱۹]

ژباړه:وبه وايي الله تعالی دا داسې ورځ ده،چې نفع به ورشوي رښتیا ویونکو ته رښتیا د دوی،د دوی لپاره جنتونه دي،چې بهېږي به لاندې د هغو نه ولې،همېشه به اوسېږي په هغو کې تل ترتله.

﴿٥٦﴾

## ښايسته اعمال کول

﴿اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ۝ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّيَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّ اِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ نِعْمَ الثَّوَابُ وَ حَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ۝﴾[الکهف: ٣٠، ٣١]

ژباړه: یقینًا موږ نه ضایع کوو اجر(ثواب)د هغه چا چې ښایسته عمل کوي.دغه کسانو ته باغونه(جنتونه)دي،د همېشوالي،چې بهېږي به لاندې د هغو نه ولې،اغوندي به دوی په هغو کې بنګړي،د سرو زرو؛ او اغوندي به دوئ جامې شنې،د نرمو وربښمو او د پېړو وربښمو نه،تکیه به یې وهلي وي،په هغو کې په تختونو باندې،ښه بدله ده(دا)او ښه ځای دی د نفعې اخېستلو.

﴿٥٧﴾

## الله تعالی ته ډېرې توبې ویستل

﴿اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَ لَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۝﴾[مریم: ٦٠، ٦١]

ژباړه:لاکن څوک چې توبه یې ویستې؛ او ایمان یې راوړی او نېک عمل یې کړی دی؛نو دغه کسان داخلېږي به جنت ته؛ او ظلم به پرې نشي کېدای د هېڅ شي.

﴿٥٨﴾

## په نېکو اعمالو کې د نورو څخه مخکې والی کول

﴿وَ مِنۡهُمۡ سَابِقٌۢ بِالۡخَیۡرٰتِ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِکَ هُوَ الۡفَضۡلُ الۡکَبِیۡرُ ﴿۳۲﴾ جَنّٰتُ عَدۡنٍ یَّدۡخُلُوۡنَهَا یُحَلَّوۡنَ فِیۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ ذَهَبٍ وَّ لُؤۡلُؤًا ۚ وَ لِبَاسُهُمۡ فِیۡهَا حَرِیۡرٌ ﴿۳۳﴾﴾[فاطر: ۳۲، ۳۳]

ژباړه: او بعضې د دوی نه مخکې کېدونکي دي،پخ نېکیو کې،په حکم د الله تعالی باندې،دا چې دا فضل لوی دی،باغونه(جنتونه)د همېشوالي دا خلېږي به دوی هغو ته،اغوستلی به شي دوی ته په دغو کې بنگړي د سرو زرو نه او ملغلرې او د جامې د دوی به په دغه(جنت)کې ورېښم وي.

﴿٥٩﴾

## اخلاص

﴿ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِیۡنَ ﴿۴۰﴾ اُولٰٓئِکَ لَهُمۡ رِزۡقٌ مَّعۡلُوۡمٌ ﴿۴۱﴾ فَوَاکِهُ ۚ وَ هُمۡ مُّکۡرَمُوۡنَ ﴿۴۲﴾ فِیۡ جَنّٰتِ النَّعِیۡمِ ﴿۴۳﴾ عَلٰی سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِیۡنَ ﴿۴۴﴾ یُطَافُ عَلَیۡهِمۡ بِکَاۡسٍ مِّنۡ مَّعِیۡنٍۭ ﴿۴۵﴾ بَیۡضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِیۡنَ ﴿۴۶﴾﴾[الصافات: ٤٠ - ٤٦]

ژباړه:مگر بنده گان د الله تعالی چې خالص کړی شوي؛دغه کسان دوی لره رزق مقرر شوی دی؛مېوې دي او دوی به عزتمند شي؛ په باغونو(جنتونو) د نعمتونو کې؛تختونو باندې یو بل ته مخامخ کېدونکي؛گرځول کېږي به په دوی باندې جامونه د چینه دارو شرابو؛تک سپین او د څښونکو لپاره خوندور او مزېدار.

﴿٦٠﴾

## جګړه نه کول

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

﴿أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ، وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا﴾(١)

ژباړه:زه هغه چاته د جنت په ښکتنۍ برخه کې د یوه کور ضمانت کوم،چې له حقدارۍ سره جګړه پرېږدي.

(١)-أخرجه أبو داود (٤٨٠٠) والطبراني (٧٤٨٨) والبيهقي (٢٠٩٦٥).

## څلور نېکمرغه خبرې

له علي رضي الله عنه نه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په جنت کې داسې اوچت کورونه دي،چې دننه برخه یې له بهر څخه او بهرنۍ برخه یې له دننه څخه ښکاري،د دې خبرې په اورېدو سره یو کلیوال سړی ودرېد او پوښتنه یې وکړه: ای د الله رسوله! دا کورونه د چا لپاره دي؟ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا کورونه د هغه چا لپاره دي چې:

- خوږې خبرې کوي.
- پر خلکو خوراک کوي.
- پرله پسې روژې نیسي.
- دشپې چې کله خلک ویده شي؛ نو لمونځ کوي.(١)

## څلور غوره ځانګړتیاوې

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

په تاسې کې نن چا روژه نیولې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:په تاسې کې نن چا د مړي جنازه کړې ده؟ ابوبکر رضي الله عنه وویل: ما، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:په تاسې کې نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟ابوبکر رضي الله عنه وویل:ما، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:په تاسې کې نن چا مسکین ته ډوډۍ ورکړې ده؟ابوبکر وویل: ما؛ نو رسول الله صلی الله علیه

(١)-أخرجه الترمذی (٣٥٤/٤ ، رقم ١٩٨٤)، وأحمد (١٥٥/١ ، رقم ١٣٣٧).

وسلم وفرمایل: په کوم انسان کې چې دا څلور خویونه جمع شي،هغه جنت ته داخلېږي.(١)

## لس د مطلب نه ډکې خبرې

❖ بعضې حکماؤ ویلي،چې لس خویونه دي چې د الله تعالی ډېر بدې راځي د لسو کسانو نه:

١. بخل؛ د مالدارو نه.
٢. کبر؛ د فقیرانو نه.
٣. طمع؛ د علماؤو نه.
٤. بې حیایي؛ د ښځو نه.
٥. محبت د دُنیا؛ د بوډاگانو او سپین ږیرو نه.
٦. سستي؛ د ځوانانو نه.
٧. ظلم؛ د بادشاهانو نه.
٨. وېره؛ د غازیانو نه.
٩. خود بیني؛ د زاهدانو نه.
١٠. ریا؛ د عبادت کوونکو نه.

❖ علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله فرمایي چې علماء کرامو فرمایلي دي،چې موږ لس شیان په لسو نورو ځایونو کې پیدا کړ:

١. لویي په تکبر کې ده؛ او دا په عاجزۍ سره له منځه ځي.

---

(١)-صحیح مسلم(١٠٢٨).

٢. عبادت په لمانځه کې دې ؛ او دا په پرهېزګارۍ سره لاسته راځي.
٣. راحت په حرص کې دې؛ او دا راحت په زهد سره حاصلېږي.
٤. د زړه رڼا د ورځې په لمونځونو کې ده؛ او دا دشپې په پټه لمونځونو لاسته راځي.
٥. د قيامت د ورځې رڼا په سخا کې ده؛ او دا په تنده او روژه لاسته راځي.
٦. د صراط په پُل تېرېدل په قربانۍ کې دي؛ او دا په صدقه لاسته راځي.
٧. د اور نه خلاصېدل په مباحاتو کې دي؛ او دا د شهوتونو په پرېښودلو لاسته راځي.
٨. د الله تعالى محبت حاصلول په دنيا کې دي؛او دا په ذکر لاسته راځي.
٩. سکون په جمع والي کې دی؛ او دا په يواځې والي سره لاسته راځي.
١٠. د زړه رڼا طلب کول په نصيحتونو او د قرآن کريم په تلاوت کې ؛ او دا په سوچ او ژړا سره لاسته راځي.[1]

---

(١)-منبهات؛ابن حجر عسقلاني رحمه الله(ص،١١٨).

## لمونځ

لمونځ؛ د دين ستنه ده او چا چې وکړ؛ نو په دې کې لس خصلتونه دي:

- د مخ ښايست دی.
- د زړه رڼا ده.
- د قبر ملګری دی.
- د رحمت نازلونکې دی.
- د اسمان کيلي ګانې دي.
- د ميزان د تلې دروند والی دی.
- د الله تعالی رضا مندي ده.
- د جنت اخېستل دي.
- د اور نه پرده ده.

**لمونځ؛ داسې يو عبادت دی،چا چې قائم کړ؛ نو دين يې قائم کړ او چا چې پرېښود(ترک کړ)؛ نو دين يې ونړولو.(١)**

# پای

**١٣٩٧/١٢/١٧**

(١)-منبهات؛ابن حجر عسقلاني رحمه الله(ص،١١٢).













https://t.me/saraablibrary

0775572020
0798597676
0781555616

دعوت
خپرندویه ټولنه